درویش وردک

۰۲ می ۲۰۱۶

## پنځه دیرشم مجلس(له خدایه ویره)

بزرګوارشیخ(رضی الله تعالی عنه) فرمایلی: وای پرتاسو! ای متکبرینو! ستاسو عبادات په ځمکه نه ننوځی چی له نظره پټ شی، بلکه آسمان ته خیری اوترځیرنی لاندی راځی. عزّوجلّ خدای فرمایی: (... اِلَیْهِ یَصْعَدُ الْکَلِمُ الطَّیِّبُ وَ الْعَمَلُ الصَّالِحُ یَرْفَعُهُ)-« پاکی خبری دده خواته پورته ځی، اونیک کرداردی چی داخبری پورته وړی. سوره فاطر. آیه ۱۰».

زمونږربّ په عرش کی دی، اوپرکائناتومسلط دی، اوعلم یی پرټولو موجوداتواوشیانواحاطه لری. په قرآن کریم کی اوه آیته دی چی په دی معنی دلالت کوی، چی ستاسو دجهل اوخودخواهی په وجه نشم کولای له ویلویی ډډه وکړم.

ما په خپله تیره توره هرډول چی غواړی وکوابنوه، اویا هرډول چی غواړی ماددنیا مال ته وهڅوه، ولی پوه شه چی پرته له خدایه له بل چا باک نلرم، امید خدای ته دی اونه غیرته، دده پرستش کوم نه دبل، ټول اعمال اوعبادات می یوازی دده دخاطر درضا لپاره دی اونه دغیرو لپاره، زما روزی دده دقدرت په لاسونو کی ده،نه دبل په لاس کی. ټول خلک دده بندګان دی،اوهرڅه چی لری له مولا څخه دی.

وایی چی دپنځه سوو خلکو دده په لاس اسلام راوړی، اودشلوزروکسانو په شاه اوخوا دده پواسطه دتوبی توفیق ترلاسه کړی دی. اوداټول دمحمّد مصطفی(صلی الله علیه وسلم) دګرانمایه وجود له برکته دی.

(عَالِمُ الْغَیْبِ فَلا یُظْهِرُ عَلی غَیْبِهِ اَحَداً اِلّا مَنِ ارْتَضی مِنْ رَسُولٍ)-«په تولو پټوهغه پوه دی،اوهیڅوک دده په پټوندی خبر،پرته له هغو رسولانو چی خدای غوښتی وی. سوره جن. آیه ۲۶». دغیبواسرار له خدای سره دی، هغه ته نیږدی شه ترڅوهغه څه چی دده سره دی، ووینی. دزن اوفرزند اوکلی کور حب له زړه څخه دباندی وباسه، اودحق لوری ته ورشه، اوکله چی دقرب باب ته ورسیدی، پرته له لقاء الله دبل څه په هکله فکر مکوه. که له خوړو ډکه کاسه درته راوړی، څه مه خوره. اوکه په حجره کی یی ساکنه کړی، مه ساکنیږه، اوکه یی ښځه درکړه له هغی لیری والی وکړه.

دی شیانو ته هیڅ پاملرنه مه کوه، ترڅو په خاورو سپیره اودفقرپه جاموکی چی رنځونه دی هم تحمل کړی وی، لقاء الله ته ورسیږی، هغه وخت به دی هغه ستا مطعم وی، اودرحمت له شرابو به دروڅکی، دخپل جمال اوجلال په انس به دی وحشت زایل کړی، درته به پراخی حاصله شی، رنځ به دی په راحت، اوداربه دی په امن بدل شی، هغه وخت دهغه لقاء ستا څواک، اودیداربه یی ستا خوارک اوڅښاک وګرځی.

دخلکو تولا پرخالق څه ده؟ له خدایه ویره، امید خدای ته، دده په یادسره سکون اوآرامش، دده پرذات اعتماد، داده دمومن تولا پرخدای پاک باندی.

**«ربنا آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقنا عذاب النار» آمین.**